## شیخ زاید پوهنتون

## اقتصاد پوهنځی

## مالي او بانکي څانګه


د لیسانس دورې پایلیک

# په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې ستونزې او حل لارې


ترتیب کوونکی: شیرولي عُـــــمر

لارښود استاد: نوماند پوهنیار فضل محمد احـــمدي



کال: ۱۴۰۴ هـ.ش / ۱۴۴٦ ق


بسم الله الرحمن الرحيم

## خلا صه (Abstract):

د دغه څېړنې هدف په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې د ستونزو او حل لارو پیداکول دي، لکه څرنګه چې دا یوه کیفي څېړنه ده نو له دوه ډوله معلوماتو څخه پکې استفاده شوې ده لومړی لاس معلومات چې د In depth interview مېتود په واسطه د بانک له مسؤلینو، د بانک له مشتریانو او نورو باسواده اشخاصو څخه ترلاسه شوي دي او د دوهم لاس معلومات د مجلو، کتابونو، مقالو څخه راټول شوي دي. د ډاټا دتحلیل لپاره د Coding تخنیک کارول شوی دی، چې په نتیجه کې تر ټولو لویه ستونزه د عامه پوهاوي نشتون ښودل دي او ترټولو غوره حل لاره داده ترڅو د تمویل له اسلامي لارو چارو څخه استفاده وشي او همدارنګه د عامه پوهاوي زیاتوالي د نوموړو ستونزو په حل کې مرسته کولای شي.

کلیدي کلیمې: اسلامي بانکوالۍ، ستونزې، سود(ربا).

# د مونوگراف تائید پاڼه

ښاغلي شیرولي د محمد الـدین زوی، د مـالي او بـانکي څـانکې محصـل، پـه افغانسـتان کـې د اسـلامي بانکوالی د تطبیق په وړاندې ستونزې او حل لارې، تر سرلیک لاندې خپل مونوگراف د علمي او اعتبـار لرونکو سرچینو پر اساس زما له لار ښوونو سره سم لیکلی دی، چې زما له کره کتنې څخه وروسـته تائیـد شو.

په درنښت

د لارښود استاد نوم:- نوماند پوهنیار فضل محمد احمدي لاسلیک ...............

ژوري هیئت:- دمونوگراف/ پروژې د دفاع نېټه: / /۱۴۰۴

۱. نوم ...................................... لاسلیک .........................

۲. نوم ...................................... لاسلیک .........................

۳. نوم ......................................لاسلیک .......................

## مننليک (acknowledgment):

په لومړي قدم کې د خوست شيخ زايد پوهنتون د اقتصاد پوهنځی له محترم رئيس صاحب پوهنمل شرف الدين شرف، د مالي اوبانکي چارو آمر پوهنمل رحمت الله منګل او له ټولو قدرمنو استادانو څخه نړۍ مننه کوم چې ماته يې په تېر څلورکلن علمي دور کې په پوره اخلاص او پوهې سره زدکړه راکړه او له ما سره يې زيات کوښښونه وکړل، دا دې دوی د زحمتونو پايله ده چې زه يې ترديې ځايه را ورسولم.
لکه څرنګه چې د افغانستان د لوړوزده کړو وزارت د قوانينو او اصولو پر اساس هر محصل مکلف دی چې د خپل تحصيلي دور په پای کې مونوګراف وليکي او د مونوګراف ليکنې او د مونوګراف اړوند موضوعاتو لپاره لارښود استاد ته ضرورت او اړتيا ليدل کيږي نو زما لارښود استاد نوماند پوهنيار فضل محمد احمدي دی چې زما سره يې د دغه مونوګراف په جوړښت، ترتيب، او سمون کې د لارښود استاد په توګه د خپل وس مطابق هر اړخيزه مرسته کړې ده او په دغه تحصيلي دور کې يې له هيڅ ډول علمي، مسلکي او تجربوي لارښوونو نه يم بې برخې کړئ، او خپل قيمتي وخت يې ماته راکړی وو، له محترم لارښود استاد څخه د زړه له کومي مننه کوم، او له الله(ج) څخه ورته د لا نورو برياوو غوښتونکی يم پاتې ژوند دې له کاميابيو او خوښيو څخه ډک شه.

په درنښت

شيرولي عُـــــمر

..........................

## ډالۍ (Gift):

هغه چاته چې په پوره توګه هیواد ته ژمن وي.

د افغانستان ځوربدلي ولس هغو ځوانانو ته چې د هیواد په دغه کړکېچن ماحول کې د روښانه راتلـونکي په تمه لا خپلو علمي هلوځلو ته لاس په کار دي او زحمت اؤبسي،

او همداشان خپل ګران پلار جان، مور جانې، او وروڼو ته چې د زیاتو ستونزو او مشـکلاتو سره یـې ماته د لوړو زدکړو زمینه مساعده کړه ترڅو زه خپلو زدکړو ته ادامه ورکـړم او تـل بـه یـې علمـي ډګـر تـه تشویق کوم.

همداشان هغو ملګرو او دوستانو ته چې هر ډول مرسته یې راسره کړې او تل یې تشـویق کـولم ترڅـو زه خپله تحصلي دوره پای ته ورسوم په پوره مینه او احترام یې ورته ډالـــۍ کوم.

په درنښت

شیرولي عُـــمر

## لیکلړ

| عنوان | مخ |
|---|---|


خلا صه (ABSTRACT): ............ ............ ............ب
د مونوگراف تائید پاڼه ............ ............ ............ج
منلیک (ACKNOWLEDGMENT): ............ ............ ه
ډالۍ (GIFT): ............ ............ ............و
سریزه: ............ ............ ............ ............١
١.١ پېژندنه (INTRODUCTION): ............ ............٢
٢.١ د بانک تعریف: ............ ............ ............٢
١.٢.١ د بانک لغوي تعریف: ............ ............ ............٢
٢.٢.١ د بانک اصطلاحي تعریف: ............ ............ ............٢
٣.١ اسلامي بانکوالي: ............ ............ ............٢
١.۴ د څېړنې ستونزه (RESEARCH PROBLEM): ............٣
٥.١ د څېړنې سوالونه (RESEARCH QUESTIONS): ............٣
٦.١ د څېړنې اهداف (RESEARCH OBJECTIVES): ............٣
٧.١ څېړنې ته اړتیا (NEED FOR THE RESEARCH): ............٣
١.٢ تېرو څېړنو ته کتنه (LITERATURE REVIEW): ............٤
٢.٢ د اسلامي بانکونو اهمیت: ............ ............ ............٨
١.٢.٢ د اسلامي بانکونو اهمیت په لاندې ټکو کې واضح کېږي: ............٨
٢.٢.٢ اسلامي بانکدارۍ ته متوجې گواښونه او ستونزې: ............٨
٣.٢.٢ د اسلامي بانکدارۍ داخلی ستونزې: ............ ............٩
٣.٢ بهرنۍ ستونزې او چلنجونه: ............ ............ ............٩
۴.٢ د اسلامي بانکدارۍ نیمگړتیاوې: ............ ............ ............٩
٥.٢ د اسلامي بانکونو د کامیابۍ لاملونه: ............ ............ ١٠

۶.۲ د بانک ډولونه: ........................................................... ۱۰
۱.۶.۲ زراعتي بانک: ........................................................... ۱۱
۲.۶.۲ صنعتي بانک: ........................................................... ۱۱
۳.۶.۲ پراختیایي بانک: ........................................................... ۱۱
۴.۶.۲ کومکي بانک: ........................................................... ۱۱
۵.۶.۲ د استسمار بانک: ........................................................... ۱۱
۷.۲ د بانکي حسابونو ډولونه: ........................................................... ۱۲
۱.۷.۲ جاري حساب: ........................................................... ۱۲
۲.۷.۲ سپما حساب: ........................................................... ۱۲
۳.۷.۲ د ګټې او تاوان حساب: ........................................................... ۱۳
۴.۷.۲ معیادي حساب: ........................................................... ۱۳
۸.۲ مرکزي بانک (CENTRAL BANK): ........................................................... ۱۳
۱.۸.۲ ملی ګټه: ........................................................... ۱۳
۲.۸.۲ د مرکزي بانک حودو: ........................................................... ۱۳
۳.۸.۲ ځانګړي واکونه: ........................................................... ۱۴
۴.۸.۲ خپلواک: ........................................................... ۱۴
۹.۲ د بانکوالی اُصول: ........................................................... ۱۴
۱۰.۲ د مرکزي بانک دندې (FUNCTIONS OF CENTRAL BANK): ........................................................... ۱۴
۱.۱۰.۲ د پیسو نشرول (ISSUANCE OF MONEY): ........................................................... ۱۴
۲.۱۰.۲ د حکومت بانک (BANK OF THE STATE): ........................................................... ۱۴
۳.۱۰.۲ د بانکونو بانک (BANKERS` BANK): ........................................................... ۱۵
۴.۱۰.۲ د بانکونو د پیسو ساتل: ........................................................... ۱۵
۵.۱۰.۲ سپېځلتوب: ........................................................... ۱۵
۶.۱۰.۲ آخري پنا ځای: مرکزي بانک د سوداګریزو ........................................................... ۱۵

۷.۱۰.۲ د پیسو پر بازار نظارت: ............................................................................ ۱۵
۸.۱۰.۲ پر تبادلې څار: ............................................................................ ۱۵
۹.۱۰.۲ پرمختیایي رول: ............................................................................ ۱۶
۱۱.۲ د افعانستان بانک (DA AFGHANISTAN BANK): ............................................ ۱۶
۱۲.۲ د اسلامي بانک تعریف: ............................................................................ ۱۷
۱.۱۲.۲ د اسلامي بانک اُصول (PRINCIPLES): ..................................................... ۱۷
۲.۱۲.۲ د اسلامي بانک تاریخچه: ............................................................................ ۱۷
۳.۱۲.۲ لومړنی اسلامي بانک: ............................................................................ ۱۷
۱۳.۲ اسلامي بانکي حسابونه: ............................................................................ ۱۹
۱.۱۳.۲ جاري حساب (CURRENT ACCOUNT): ..................................................... ۱۹
۲.۱۳.۲ د پس انداز حساب (SAVING ACCOUNT): ..................................................... ۱۹
۳.۱۳.۲ د پانګونې حساب (INVESTMENT DEPOSIT): ............................................ ۲۰
۴.۱۳.۲ د پیسو د لیږدونې خدمت (MONEY TRANSFER SERVICE): ............................ ۲۰
۵.۱۳.۲ د قرض حسنې حساب: ............................................................................ ۲۰
۱۴.۲ سود (INTEREST): ............................................................................ ۲۱
۱.۱۴.۲ د سود (ربا) پېژندنه: ............................................................................ ۲۱
۲.۱۴.۲ د سود اصطلاحي تعریف: ............................................................................ ۲۲
۱۵.۲ په غربي بانکونو کې د اسلامي بانکونو ځانګې: ............................................ ۲۲
۱٦.۲ په نړۍ کې د اسلامي بانکونو لېست: ..................................................... ۲۲
۱.۱٦.۲ اسلامي بانک او د اړوند هیواد نوم: ..................................................... ۲۲
۱۷.۲ د اسلامي او سودي بانکوالۍ ترمنځ توپیر: ..................................................... ۲٤
۱۸.۲ د تمویلولو اسلامي طریقې: ............................................................................ ۲۵
۱.۱۸.۲ مشارکت: ............................................................................ ۲۵
۲.۱۸.۲ مضاربت: ............................................................................ ۲٦

۳.۱۸.۲ مرابحه: ........................................................................................ ۲۷
۴.۱۸.۲ بيع موجل: ........................................................................................ ۲۷
۵.۱۸.۲ بيع سلم: ........................................................................................ ۲۷
۶.۱۸.۲ استصناع: ........................................................................................ ۲۸
۷.۱۸.۲ اجاره: ........................................................................................ ۲۸
۱.۳ د څېړنې میتود لوژي (RESEARCH METHODOLOGY): ........................................ ۲۸
۲.۳ IN DEPTH INTERVIEW میتود: ........................................................................ ۲۸
۳.۳ د نوموړي میتود غوره والی نسبت نورو میتودونو ته: ........................................ ۲۹
۴.۳ CODING تخنیک: ........................................................................................ ۲۹
۱.۴ تحلیل او تجزیه (THE ANALYSIS): ................................................................ ۲۹
۱.۵ نتیجه ګیري (THE CONCLUSION): .................................................................. ۳۳
۲.۵ وړاندیزونه (SUGGESTIONS): ......................................................................... ۳۵
۵.۳ ماخذونه (REFERENCES): ................................................................................ ۳۷

## د جدولونو لړلیک

A- جدول ........................................................................................................ ۳۰

b- جدول ........................................................................................................ ۳۱

**د گرافونو لړلیک**

1 - موازنه  ستونزې ........................................................................................ ۳۱
2 - موازنه حل لارې ............................................................................................. ۳۲

## سریزه:

په اوسني عصرکې اسلامي بانکوالي د مالي او اقتصادي ودې یوه مهمه برخه گرځېدلې ده، چې د اسلامي اصولو پر بنسټ، د سود د مخنیوي او عادلانه اقتصاد د پراختیا لپاره ځانگړی چوکاټ وړاندې کوي. افغانستان چې د یوې اسلامي ټولنې حیثیت لري، د اسلامي بانکدارۍ د تطبیق لپاره ځانگړې اړتیا لري ترڅو د خلکو دیني غوښتنې پوره کړي او د اقتصادي ودې لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي.

سره له دې چې اسلامي بانکداري په نورو هیوادونو کې هغه که اسلامي هیوادونه دي او که غیرې اسلامي هیوادونه د پام وړ پرمختگ یې کړی دی، په افغانستان کې یې د تطبیق پر وړاندې کنې ستونزې او خنډونه شتون لري. د دې ستونزو او خنډونو عمده عوامل د تخنیک کموالی، قانوني خلاوې، د عامه پوهاوي نشتون، او د مالي زیرساختونو نیمگړتیاوو سره تړاو لري.

د دې مونوگراف موخه دا ده چې په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ د تطبیق پر وړاندې شته ستونزې په تفصیل سره تحلیل کړي او هغه حل لارې وړاندې کړي چې د دې نظام بریالیتوب ته زمینه برابرولی شي. د څېړنې پایله به د اسلامي بانکدارۍ د ودې لپاره عملي لارښوونې وړاندې کړي او د افغانستان د مالي سکتور د اصلاح لپاره به گټور وي.

دا مونوگراف له پینځو برخو څخه جوړ شوي دی. چې لومړي برخه یې، پېژندنه، د بانک تعریف، اسلامي بانکوالی، د څېړنې ستونزه، د څېړنې سولونه، د څېړنې اهداف، څېړنې ته اړتیا او همداسې نور.

دوهمه برخه یې، تېرو څېړنو ته کتنه، د اسلامي بانکونو اهمیت، اسلامي بانکدارۍ ته متوجې گواښونه او ستونزې، د اسلامي بانکدارۍ داخلي ستونزې، بهرنۍ ستونزې او چلېنجونه، د اسلامي بانکدارۍ نیمگړتیاوې، د اسلامي بانکونو د کامیابۍ لاملونه، د بانک ډولونه، او داسې نور.

دریمه برخه یې، د څیړنې میتودلوژي، In depth interview میتود، او Coding تخنیک دی، څلورمه برخه یې، تحلیل او تجزیه ده، پینځمه برخه یې، نتیجه گیري، وړاندیزونه، او ماخذونه دي.

## ۱.۱ پېژندنه (Introduction):

دا یو منل شوي حقیقت دی که چېرې اسلامي بانکوالي په یوه هیواد کې پلې شي نـو هېڅکلـه بـه هغـه هیواد له اقتصادی مشکلاتو سره مخامخ نشی.

او هم به یی ګټه محتاجو خلکو ته رسیږي، همدارنګه د اسلامي بانکوالي عملي کول مسلمانان لـه یـوې لوې ګناه څخه ژغوري چې هغه سود دی.(نیازی، ۱۳۹۱، ص-۱٦٦)

## ۲.۱ د بانک تعریف:

### ۱.۲.۱ د بانک لغوي تعریف:

بانک په اصل کې یوه اروپایي کلمه ده، چې سرچینه یې له ایټالوي کلمې بانکو (Banco) څخه اخیستل شوې او بانکو په اصل کې د لرګي جوړ هغه میز ته ویل کیږي، چـې پـه منځنیـو پیړیـو کـې د ایټالیـا پـه شمالي سیمو کې به سوداګرو د خپلو پیسو د تبادلې لپاره کار ترې اخیستو.

### ۲.۲.۱ د بانک اصطلاحي تعریف:

بانک هغه سوداګریزه اداره ده، چې له اشخاصو څخه په کمه ګټه امانتونه ترلاسه کوي او پانکوالو ته یـې په زیاته ګټه ورکوي.(شهزاد، ۱۴۰۳، ص-۹۵)

بانک هغه مالي اداره ده چې په هغه کې د صنعت کارانو، تجارانو، او نورو عامو اشخاصو شـتمني جمعـه کیږي.(نیازی، ۱۳۹۱، ص-۱۲۰)

لکه څرنګه چې زموږ موضوع اسلامي بانکوالي ده نو اوس بـه د اسـلامي بـانکوالۍ پـه هکلـه معلومـات وړاندې کړو.

## ۳.۱ اسلامي بانکوالي:

د اسلامي حرکت پـایلې دي، چـې اسـلامي بانکونـه دا هڅـه او کوښـښ کـوي چـې ټـول هغـه اقتصـاي مشکلات حل کړي چې اسلامي ټولنه ورسره لاس او ګریوان ده. اسلامي بانکوالي هغه بانکوالۍ ته ویـل کیږي چې ټولې کړنې یې د اسلامي قوانینو او أصولو مطابق مخته وړل کیږي اویا هـم اسـلامي بـانکوالي هغه بانکوالۍ ته ویل کیږي چې د سودي معاملاتو څخه پکې منعه راغلـې وي اسـلامي بـانکوالي ورتـه ویل کیږي.(عثماني، ۱۳۹٦، ص-۱۸۲)

په اسلامي بانکوالۍ کې یو مهم اصل دادی چـې د یـوه فعالیـت ګټـه او تـاوان بـه شریـک وي مـثلاً کـه چیرې یو شخص بل شخص ته خپله سرمایه په مضاربت ورکړي او یا هم مشارکت ورسره وکړي که یـې

ګټه وکړه او که یې تاوان وکړ نو دغه ګټه او تاوان به د دوي ترمنځ په هغه اندازه ویشل کیږي کوم څه چې دوي په قرارداد کې لیکلي وي. (نیازی، ۱۳۹۱، ص-۱۶۶)

اسلامي بانکوالي لومړي ځل په مصر-کې په ۱۹۶۳م کال کې رامنځته شوه نوموړې بانکوالي ډیره ابتدایي بڼه درلوده او د وخت په تیریدو سره یې پرمختګ وکړ، او همدارنګه په ۱۹۷۵م کال کې په دُبی کې اسلامي پرمختیایي بانک جوړ شو، وروسې په ۱۹۷۷م کال کې په سوډان کې د الفیصل بانک جوړ شو، او په ۱۹۷۹م کال کې د بحرین اسلامي بانک جوړ شو او همدارنګه د وخت په تیریدو سره نور اسلامي بانکونه جوړ شول.

## ۱.۴ د څیړنې ستونزه (Research Problem):

لکه څرنګه چې په افغانستان کې د ۱۷ په شاوخوا کې سوداګریز بانکونه فعالیت کوي چې له دې جملې څخه یو هم په مکمل ډول د اسلامي بانکوالۍ څخه استازیتوب نه شي کولای لکه څرنګه چې دا ټولو ته بهتره معلومه ده چې د افغانستان ۹۹٪ سلنه وګړی مسلمانان دي او دوي نه غواړي ترڅو خپله سرمایه په سودي بانکونو کې په کار واچوي ځکه داخو ټولو ته بهتره معلومه ده چې سود د اسلام له نظره ناروا او حرام عمل دی د دنیا او آخرت د بربادی او تباهي او د الله تعالی د قهر او غضب لامل ګرځي نو پورتنیو ستونزو ته په کتو سره غواړم چې په دې هکله څیړنه وکړم او ترڅو معلوم کړم کوم عوامل دي چې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق او عملي کیدو په وړاندې خنډ ګرځي او هغه لارې چارې چې د دې ستونزو په له منځه وړلو کې زموږ سره مرسته کوي.

## ۵.۱ د څیړنې سوالونه (Research Questions):

1 - په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې کومې ستونزې موجودې دي؟

2 - د دغه ستونزو د له منځه وړلو لپاره کومې لارې چارې موجودې دي؟

## ٦.١ د څیړنې اهداف (Research Objectives):

1 - په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې د ستونزو او مشکلاتو معلومول.

2 - د نوموړو ستونزو د له منځه وړلو لپاره حل لارې لټول.

## ۷.۱ څیړنې ته اړتیا (Need for the Research):

لکه څرنګه چې زموږ د هیواد ۹۹٪ سلنه وګړي مسلمانان دي او نه غواړي ترڅو خپلې شتمنی په سودي بانکونو کې په کار واچوي ځکه سود د اسلام له نظره حرام دی او سودي معاملات د دوی له دین او مذهب سره په سره په ټکر کې دي نو ځکه دې ضرورت ته په کتو سره مې دا موضوع انتخاب کړه.

## ۱.۲ تېرو څېړنو ته کتنه (Literature review):

يوه څېړنه چې په UK کې ترسره شوې په هغه کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبيق په وړاندې د موجوده ستونزو يادونه شوې ده چې نوموړې ستونزې به لاندې ذکر شي:

قانوني مشکلات او خنډونه له کوم وخت راهيسې چې اسلامي بانکوالۍ په UK کې فعاليت کړی دی تراوسه يو منظم قانوني چوکاټ نه لري، ددې لپاره چې خپلو فعاليتونوته په سمه توګه ادامه ورکړي، نو دوي بايد په خپلو پاليسيانو او د محاسبې په برخه کې نوښت رامنځته کړي او هغه ته وده او پرمختګ ورکړي، ځکه دادې اسلامي بانکوالۍ په پرمختګ کې مهم رول لوبوي.(Lolita, ۲۰۱۸, p_۸۷)

بل لوي مشکل چې اسلامي بانکونه په UK کې ورسره لاس او ګريوان هغه هم رقابت او نړيوالتوب دی، څنګه چې مالي مارکيټونو د پرمختګ په حال کې دي، نو اسلامي بانکونه نشي کولای چې د مشتريانو غوښتنو ته په وخت ځواب ووايي. نو په دې صورت کې خلک د سودي بانکونو څخه استفاده کوي.

او همدارنګه بل د پام وړ مشکل چې اسلامي بانکونه ورسره لاس او ګريوان دي هغه هم نړيوالتوب دی، نو اسلامي بانکونه ته لازمه ده تر څو د نړۍ په بيلابيلو برخو کې سرمايه ګذاري وکړي او Fund له يو هيواد څخه بل هيواد ته انتقال کړي ترڅو له نړيوالو سره مقابله وکړي.

يو له لويو مشکلاتو څخه چې اسلامي بانکوالۍ ورسره په UK لاس او کريوان ده هغه د اسلامي بانکوالۍ په هکله د عامه پوهاوي نشتون دی، خلک د اسلامي بانکوالۍ د خدماتو او د هغوي د فعاليتونو په هکله معلومات نلري نو اسلامي پوهانو ته لازمه ده چې د اسلامي بانکوالۍ په هکله او د هغوي د خدماتو او توليداتو په هکله خلکو ته کافي معلومات ورکړي.

د قوي مديريت او رهبرۍ نشتون د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې له لويو خنډونو څخه شميرل کيږي.

نوموړې څېړنه په نايجيريا هيواد کې ترسره شوې په هغه کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبيق په وړاندې لاندې ستونزې په ګوته شوې دي:

مذهبي خنډونه او مشکلات: نوموړی مشکلات په دوه برخو ويشل شوي دي ۱- داخلي خنډونه او مشکلات ۲- خارجي خنډونه او مشکلات، په خارجي خنډونو کې د عيسوي دين د پيروانانو له طرفه د اسلامي بانکوالۍ د فعاليتونو په وړاندې د مشکلاتو رامنځته کول او د اسلامي بانکونو د فعاليتونو مخه نيول دي، په داخلي مشکلاتو کې په سمه توګه د تيوريانو نه عملي کول او د مهارت لرونکو کسانو کمښت شامل دي چې دادې اسلامي بانکوالۍ د تطبيق په وړاندې له لويو ستونزو څخه شميرل کيږي.

یوه بله څېړنه چې په امریکا کې د اسلامي تمویل تر عنوان لاندې د پالیسي جوړونې د څانګې له طرفه ترسره شوې ده چې په هغه کې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې د ستونزو او مشکلاتو یادونه شوې ده چې عمده مشکلات یې عبارت دي له :

کوم څه چې په تیوریکي بڼه لیکل کیږي مګر هغه بیا په عمل کې نه تطبیق کیږي، د ټاکلو معیارونو نه شتون هم د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې له لویو ستونزو څخه ګڼل کیږي لکه د سرمایه ګذاري په برخه کې د معیارونو نه شتون او داسې نور...

بل عمده مشکل چې اسلامي بانکونه ورسره لاس او ګریوان دي هغه هم د صنعت په برخه کې د سرمایه ګذارۍ کمزورتیا او صنعت ته توجو نه کول دي. ځکه صنعت د یوه هیواد د پرمختګ سبب ګرځي، کـه چېرې صنعت ته توجو وشي نو دابه د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ سبب وګرځي.

په مالي بازارونو کې د مدریت کمزورتیا د اسلامي بانکوالۍ یو له لویو ستونزو او خنډونوڅخه ګڼل کیږي.

یوه بله څېړنه په مالیزیا هیواد کې ترسره شوې ده چې په هغه کې د اسلامي بانکوالۍ د ځینو خنډونو یادونه شوې ده چې عبارت دي له :

د اسلامي بانکوالۍ د خدماتو په هکله د خلکو نا خبري او قانوني مشکلات چې دا هم د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.

یوه لویه ستونزه چې اسلامي بانکونه ورسره لاس او ګریوان دي هغه هم د مقرراتو او أصولو نه شتون دي.

د اسلامي پوهانو ترمنځ د همغږي نه شتون او کمزورتیا او د عقایدو اختلاف د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې لویې ستونزې ګڼل کیږي.

د مهارت لرونکو بشري منابعو کمښت هم د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.

تخنیکي مشکلات او ستونزې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.

د اسلامي بانکوالۍ د خدماتو په هکله د مشتریانو او عامو خلکو ناخبري د عامه پوهاوي نه شتون او همدارنګه د سیالې دارایې کمښت هم د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.

د سیاسي ثبوت نه شتون او نړیوالتوب هم د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.(Abubaker, ۲۰۱۸, p_۱۲۷٤)

یوه بله څېړنه د تانژانیا په هیواد کې ترسره شوې ده: د شرعي قوانینو او مقرراتو نه شتون د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.(Aulia, ۲۰۱٦, p_۲۵)

یوه بله څېړنه د اروپایي اتحادیې په هیوادونو کې ترسره شوې: په اروپایي هیوادونو کې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې لویه ستونزه د سودي بانکونو په وړاندې رقابت دی، هغه په دې ډول کوم خدمات چې اسلامي بانکونه یې وړاندې کوي نسبت سودي بانکونو ته یې په لوړ قمیت سره وړاندې کوي اسلامي ټولنې خپل دین او مذهب ته په کتوسره غواړي ترڅو د اسلامي بانکوالۍ له خدماتوڅخه استفاده وکړي مګر غیرې اسلامي ټولنې بیا نه غواړي ترڅو په لوړ قیمت سره د اسلامي بانکوالۍ له خدماتو څخه استفاده وکړي، نو که چیرې اسلامي بانکونه غواړي چې خپل مشتریان زیات کړي نو دوي باید خپل خدمات په ټیټ قیمت او لوړ کیفیت سره خلکو ته وړاندې کړي.

په معیاري بڼه تولیدات او خدمات چې اسلامي بانکونه یې له کمښت سره لاس او ګریوان دي، دا هم د اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ په وړاندې له لویو ستونزو او خنډونو څخه ګڼل کیږي، که اسلامي بانکونه خپل تولیدات او خدمات په معیاري بڼه وړاندې کړي نو دا به د اسلامي بانکوالۍ په پرمختګ کې مهم رول ولوبوي.

د روزل شویو او مهارت لرونکو اشخاصو کمښت هم د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې له لویو ستونزو او مشکلاتو څخه ګڼل کیږي.(wiwik, ۲۰۱۷, p_۲۸)

په ۱۹۷۰م کال کې د اسلامي هیوادونو له طرفه یو کنفرانس جوړ شو په کنفرانس کې د مصر او پاکستان له خوا د اسلامي بانکوالۍ وړاندیز وشو. د اسلامي کنفرانس غړیو هیوادونو د مصر هیواد ته دنده وسپارله چې د اسلامي بانکوالۍ په اړه څېړنه وکړي د مصر هیواد په دې اړه څېړنې وکړې او پایلې یې په ۱۹۷۲م کال کې د اسلامي هیوادونو سره شریکې کړې، او د کنفرانس له طرفه تصویب شوې.

همدارنګه په ۱۹۷۵م کال کې د شهزاده محمد او د هغه د پلار په ملاتړ یو اسلامي پرمختیایي بانک په سعودي عربستان کې د جدې په ښار کې جوړ شو. وروسته بیا په مصر، سوډان، اُردُن، او بحرین کې نور اسلامي بانکونه جوړ شول.

په ۱۹۸۵م کال کې د اسلامي هیوادونو فقهي شورا (OIC) جوړه شوه ترڅو د بشپړ اسلامي بانکي نظام د پرمختګ لپاره لارې چارې برابرې کړي.

او همدارنګه په ۱۹۹۱م کال کې د حساب ورکونې او تفتیش اسلامي مالي محاسبه (AAOIFI) را منځته شوه دا یو مشوراتي سازمان وا چې د اسلامي بانکوالۍ لپاره یې معیارونه وضع کول. د دوي هدف هم اسلامي بانکوالۍ ته وده او پرمختګ ورکول او د هغه د پرمختګ لپاره لارې چارې برابرول وو.
په ۲۰۰۲م کال کې د اسلامي مالي خدمتونو مؤسسه په مالیزیا هیواد کې رامنځته شوه. چې هدف یې اسلامي بانکوالۍ ته پرمختګ ورکول وو. په ۲۰۰۵م کال کې د مالیزیا هیواد له طرفه نور معیارونه هم ور اضافه شول. چې اوس د نړۍ لوی لوی بانکونه اسلامي خدمات وړاندې کوي. په دې ورستیو کې اسلامي بانکوالۍ په مالیزیا او اندونزیا هیوادونو کې زیات پرمختګ کړی دی چې له دې لارې غربي نړۍ ته هم غزیدلې ده.
په ۲۰۱۸م کال کې د سپتمبر په ۲۴مه د طلوع نیوز یو راپور:
په نوموړي راپور کې داسې راغلي وو: اسلامي بانکوالي د پرمختګ په حال کې ده او دا په هیواد کې یوه نوې تجربه وه. د خصوصي بانکونو مسؤولان وایې چې ډېري هیوادوال د اسلامي بانکوالۍ ډېر علاقه مندان دي.
همدارنګه د بانکونو د ټولنې ریس نجیب الله امیري وویل: اسلامي بانکوالي په هیواد کې یوه نوې تجربه ده، تراوسه ځینې ستونزې شته خو حکمت هڅه او کوښښ کوي چې نوموړی وضعیت ښه کړي.
په ۱۳۹۸هـ.ش کال کې د لړم د میاشتې په ۱۹مه نیټه په افغانستان کې په کاردان پوهنتون کې، «د اسلامي بانکوالۍ محصولات او له دودیزې بانکوالۍ سره یې توپیر» تر عنوان لاندې یو سمینار جوړ شو. نوموړی سمینار د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ او د مالي چارو د مشر ـ محمد یوسف سلیم له طرفه وړاندې شو، په دې سمینار کې محصلینو ته د اسلامي بانکوالۍ په هکله معلومات ورکړل شول، په نوموړی سمینار کې د یاد پوهنتون استادانو او محصلینو برخه اخیستې وه.

## د دې څېړنې توپیر له مخکېنیو څېړنو سره:

د دې څېړنې توپیر له مخکېنیو څېړنو سره دادی چې په مخکېنیو څېړنو کې یوازې د اسلامي بانکي خدماتو یادونه او د هغوي معرفت ته پکې اشاره شوې وه مګر زه په دې ونه توانېدم تر څو داسې څېړنه پیداکړم چې په هغه کې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې د ستونزو او د هغه په حل لارو بحث شوی وي.

## ۲.۲ د اسلامي بانکونو اهمیت:

په دې کې شک نشته چې بانکونه د اقتصاد ستنې او اساسي محور ګڼل کیږي، ځکه همدغه بانکونه د خلکو شتمنۍ خوندي ساتي، هغو ته حرکت ورکوي او په کار یې اچوي او د هغوي د ودې لپاره پلانونه طرحه کوي داهم یو حقیقت دی چې په دې برخه کې د بانکونو رول له پامه نشي غورځېدلای.

همدارنګه بانکونه د اسلامي قانون په چوکاټ کې د وخت ضرورت او اړتیا ده چې هره اسلامي ټولنه په اقتصادي ډګر کې هغو ته لېواله ده.

په دې اساس بانکونه د خلکو معاملات په ساده توګه سرته رسوي او هم یې شتمنۍ ته وده او پراختیا ورکوي. همدا لامل وو چې اسلامي فقها او مفکورین دېته اړ شول چې د وخت د غوښتنو مطابق له بانکي چارو څخه ګټې لاسته راوړي او هم یې په داسې توګه وکاروي چې د اسلامي شریعت د اُصولو سره په ټکر کې نه وي.

اسلامي بانکونه د اسلامي حرکت د هڅو پایله او نتیجه ده، په تېره بیا په اسلامي نړۍ کې، ځکه اسلامي نړۍ د لوېدیځ ټولې لارې چارې وه کارولې خو هېڅ یې ترې ترلاسه نه کړل، او ورته څرګنده شوه چې دغه قوانین د دوی او اقتصادي پلانونه د دوی د ټولنو او عاداتو سره سمون خوري.

اسلامي بانکونه هڅه کوي تر څو ټول هغه اقتصادي او ټولنیز مشکلات حل کړي چې اسلامي ټولنه ورسره لاس او ګرېوان ده، دا به له حق څخه لېرې وي چې ټولې اقتصادي ستونزې بانکوالۍ ته پرېښودل شي او دغه بوج ټول هغه پورته کړي.

### ۱.۲.۲ د اسلامي بانکونو اهمیت په لاندې ټکو کې واضح کېږي:

1 - د ټولنې د افرادو غوښتنو ته په داسې توګه ځواب ویل چې له هر راز سودي ګټې څخه لرې وي.

2 - په بانکي کړنو کې د معاملاتو د فقهې لپاره د تطبیق ډګر پیداکول.

3 - اسلامي بانکداري د اسلامي اقتصاد د ودې بنسټ او اساس ګڼل کېږي.

### ۲.۲.۲ اسلامي بانکدارۍ ته متوجې ګواښونه او ستونزې:

اسلامي بانکونه له زیاتو ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي چې له دې جملې څخه یې ځینې داخلي او ځینې بهرنۍ دي.

## ۳.۲.۲ د اسلامي بانکدارۍ داخلي ستونزې:

1 - د مسلکي او متخصصو اشخاصو نه موجوديت که هغه په بانکداري سيستم پورې تړاو ولري او که په شرعي احکامو پورې تړاو ولري. دغه کړنې اسلامي بانکونه دې ته اړ کړل ترڅو له هغه اشخاصو څخه استفاده وکړي چې په سودي بانکدارۍ کې تجربه ولري ترڅو د دوي په مټ اداري او عملي چارې پرمخ يوسي.

2 - په اسلامي بانکونو کې د شريعت بورډ لخوا په يوه قضيه کې د بيلابيلو فتواگانو صادرول. ډير ځلې داسې پېښيږي چې په يوه اسلامي بانک کې شريعت بورډ يو قسم فتوې صادر کړي خو په بل بانک کې د هغه مخالف فتوې صادره کړي، نو دغه چاره عملي کارونه له ستونزو سره مخامخ کوي.

3 - د مالي بازار نشتوالی او په عامه کچه د اسلامي بانکونو ترمنځ د تاوان او مرستې نشتوالی.

## ۳.۲ بهرنۍ ستونزې او چلېنجونه:

1 - دا چې په اسلامي ټولنو کې بې شمېره ځوانان د غرب له فکر او فکري استعمار څخه متأثره دي نو ډير يې داسې دي چې اسلامي احکامو ته ژمن نه دي او نه يې پروا ساتي، د حلالو او حرامو خيال نه ساتي د دوي په ذهن کې همغه د سودي بانکونو کړنې اوتعامل ځای نيولی وي.

2 - د اسلامي قوانينو او اُصولو نشتون ډيرې ټولنې چې هلته اسلامي بانکونه کار کوي نو په هغه ساحه کې خلک اسلامي قوانينو ته درناوي نه کوي، پر دې سربېره په يو شمير اسلامي هيوادونو کې د اسلامي بانکونه لپاره قوانين نه دي وضع شوي.

3 - نړيوالتوب يو له سترو چلېنجونو څخه دی چې اسلامي بانکونه ورسره لاس او گرېوان دي هغه هم په اقتصادي او مالي ډگر کې نړيوالتوب دی. ترڅو ټول تجارت او شتمني د همدوي لاس ته ولويږي، دغه کار هم اسلامي بانکونو ته بې شمېره گواښونه متوجې کړې دي، ځکه نړيوال بانکونه کافي مالي امکانات لري او اسلامي بانکونه له هغوي سره مقابله نشي کولای.

## ۴.۲ د اسلامي بانکدارۍ نيمگړتياوې:

اسلامي بانکوالي هم يو شمېر نيمگړتياوې لري چې هغه په لاندې ډول دي:

1 - په لنډ مهاله پروژو باندې تمرکز کول: لکه مرابحه، صادره او وارده او داسې نور، نو ددې پرځای چې اوږدمهاله پروژې په کار واچوي له همدې کبله لنډ مهاله پروژې په کار واچوي.

2 - ټولنيز تمويل ته توجو نه کول: لازمه خو داده چې اسلامي بانکونه بايد په ټولنيز توليد کې سرمايه گذاري وکړي. اسلامي اقتصاد به په دې قاعده نه وي ولاړ چې وايي (څه شئ لرې کنه چې زه يې درکړم) بلکې په دې قاعده به ولاړ وي چې وايي (په کوم کار قادر يې چې ترسره يې کړې)

3 - د اسلامي بانکونو ترمنځ د مرستې او همغږي نشتون.

4 - د شرعي اُصولو نه مراعات کول او هغوي ته توجو نه کول.

5 - په ټولنيزو رسنيو کې د اسلامي بانکونو تقصير بيانول.

6 -د ټکنالوژي په برخه کې د اسلامي بانکونو کمزورتيا.

## ۵.۲ د اسلامي بانکونو د کاميابۍ لاملونه:

سره له دې چې د اسلام د ښمنه ډله د اسلامي اقتصادي نظام او اسلامي بانکوالۍ په ضد تبليغات کوي بيا هم دغه اقتصادي نظام اسلامي بانکداري د شلمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې په زياته کچه کاميابه شوې او ښې لاسته راوړنې يې لرلې، د دې سره سره چې اسلامي بانکونه يو شمېر نيمگړتياوې لري خو بيا يې هم مهم رول لوبولي دی خو ددغه بانکونو کاميابی په لاندې عواملو پورې ارتباط لري:

1 - په درسته توگه د شرعي قوانينو او اُصولو رعايت، په دې معنا چې په بشپړه توگه د اسلامي قوانينو او مقاصدو تحقق صورت ومومي.

2 - له معاصرې تکنالوژی څخه په موثره توگه استفاده کول.

3 - عام ولس د اسلامي بانکونو په خدماتو پوه کول او هغوي ته د اسلامي بانکونو او سودي بانکونو د خدماتو توپير واضح گول، او همدارنگه د دواړو بانکونو د اهدافو واضح کول او داسې نور.

4 - د نړۍ ټولو سيمو ته د اسلامي بانکونو غزول ترڅو خلک دې ته اړ نشي چې د سودي بانکونو له خدماتو څخه استفاده وکړي.

5 - د داسې مالي بازارونو رامنځته کول تر څو ټول اسلامي بانکونه ځانته راجلب کړي.

6 - د اسلامي بانکونو د چارو او کړنو قانون رامنځته کول، او د دوي ترمنځ د مرستې او تعاون فضا رامنځته کول تر څو د اسلامي هيوادونو ترمنځ يو مؤحد او غوره اقتصاد رامنځته شي.

## ۶.۲ د بانک ډولونه:

د تمويل له مخې بانکونه مختلف ډولونه لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي:




**۱.٦.۲ زراعتي بانک:**

دې ته په عربي ژبه کې زرعي مصرف او په انګلیسي کې ورته Agricultural Bank وايي، دغه قسم بانکونه یوازې په زراعتي برخو کې خلکو ته قرضونه ورکوي.

**۲.٦.۲ صنعتي بانک:**

دې ته په عربي ژبه کې صناعي مصرف او په انګلسي کې ورته Industrial Bank وايي، د غه بانکونه په صنعتي برخه کې خلکو ته قرضونه ورکوي.

**۳.٦.۲ پراختیايي بانک:**

دې ته په عربي ژبه کې تعاوني او په انګلیسي ژبه کې ورته Development Bank وايي، دغه قسم بانکونه په ټولو پراختیايي برخو کې خلکو ته قرضونه ورکوي.

**۴.٦.۲ کومکي بانک:**

دې ته په عربي ژبه او په انګلیسي ژبه کې ورته Co operative Bank وايي، دغه قسم بانکونه د مرستې چارې پر مخ وړي، مګر یوازې له هغه اشخاصو سره مرسته کوي چې د دوی غړیتوب ولري، یوازې دوی ته پوروونه ورکوي.

**۵.٦.۲ د استسمار بانک:**

نومورې بانکونه په ټولو برخو کې خلکو ته قرضونه ورکوي.

## ۷.۲ د بانکي حسابونو ډولونه:

بانکي حسابونه په لاندې څلور ډوله دي؛




### ۱.۷.۲ جاري حساب:

په دغه ډول حساب کې شخص کولای شي هر وخت له خپل حساب څخه پیسې وباسي، جاري حساب لرونکو ته سود نه ورکول کیږي؛ بلکې بانک یو مقدار پیسې د بانک کمېشن په نامه اخلي، بانک نوموړې پیسې له ځان سره نشي ساتلی او نه یې چاته په پور ورکولای شي، دې ډول حساب لرونکي ته چک هم ورکول کیږي

### ۲.۷.۲ سپما حساب:

د عامو خلکو د تشویق او هڅونې په خاطر دغه ډول حساب په ډیرو لږو پیسو پرانیستل کیږي، او سود هم پرې ورکول کیږي، د دې ډول حساب لرونکي کولای شي په اونۍ کې دوه ځلې اوپه میاشت کې لس ځلې له خپل حساب څخه پیسې وباسي، د بانک ګټه په دې ډول حسابونو کې داده چې بانک لږلږ پیسې راټولوي او په تولیدي کارونو یې لګوي.

### ۳.۷.۲ د ګټې او تاوان حساب:

دغه ډول حساب لرونکي له بانک سره په ګټه او تاوان کې شریک وي، اسلامي هیوادونه د اسلامي اقتصادي نظام د دودېدلو لپاره همدغه ډول حسابونه پرانیزي.

### ۴.۷.۲ معیادي حساب:

دا ډول حسابونه تر یو معلوم وخت پورې پرانستل کیږي، چې حساب لرونکي نشي کولای له دې وخت څخه مخکې له خپل حساب څخه پیسې وباسي، داچې د دې ډول حساب وخت معلوم وي نو سود یې هم د نورو حسابونو په نسبت زیات وي.(مودودي،۱۳۷۱)

### ۸.۲ مرکزي بانک (Central Bank):

په یوه هیواد کې مرکزي بانک ترټولو مهم بانک وي چې د ټولو بانکونو د سردار په نامه یادیږي او په هیواد کې مالي نظام پیاوړی کوي. پاتې شوه داخبره چې دې بانک ته ولې مرکزي بانک وایي له دې کبله دا نوم ورکول شوي چې د هیواد په اقتصادي او بانکوالۍ نظام کې مرکزي حیثیت لري.

ډی کاک مرکزي بانک داسې تعریف کړی دی: مرکزی بانک د هیواد بانکي او د پیسو سیستم مخته وړي او د هیواد د ملی ګټو لپاره کار کوي.

د مرکزي بانک کاري اُصول:

### ۱.۸.۲ ملی ګټه:

د مرکزي بانک لومړی موخه د ملی ګټو لاسته راوړل دي. ډی کاک په خپل کتاب مرکزي بانک کې داسې لیکلي دي؛ د مرکزي بانک اساسي موخه د ملی ګټو ساتل دي چې په هیواد کې د هوساینې لپاره کار کوي.

### ۲.۸.۲ د مرکزي بانک حودو:

د مرکزي بانک لپاره د حکومت له طرفه ځانګړي قوانین وضع شوي چې د دغه قوانینو په رڼا کې کار کوي. د مرکزي بانک دندې باید ډیرې په صداقت مخته یوړل شي، تر څو د هیواد مالي نظام پیاوړی شي. مرکزي بانک د حکومت په امر خپل ټول کارونه پر مخ بیایي او د حکومت له امر څخه پرته کار نشي کولای.

### ۳.۸.۲ ځانګړې واکونه:

مرکزي بانک د خپلو دندو د سرته رسولو لپاره ځینې ځانګړي واکونه لري. د مرکزي بانک دندې باید ډیرې په امانت داری او دین داری سره مخته یوړل شي تر څو هیواد په مالي لحاظ پیاوړی شي.

### ۴.۸.۲ خپلواک:

مرکزي بانک خپلې دندې په خپلواک ډول سرته رسوي، په هیڅ یوې ډلې پورې اړه نه لري. مرکزي بانک د هیواد د مالي نظام په رأس کې ځای لري او د هیواد د پرمختګ لپاره کار کوي.

### ۹.۲ د بانکوالۍ اُصول:

د مرکزي بانک کاري اُصول د سوداګریزو بانکونو له اُصولو څخه توپیر لري. د سوداګریزو بانکونو موخه د ګټې لاسته راوړل دي، حال دا چې مرکزي بانک د هیواد دپرمختګ او اقتصادي حالت د ښه والي لپاره کار کوي.

### ۱۰.۲ د مرکزي بانک دندې (Functions of Central Bank):

مرکزي بانک د هیواد د وګړو د خوښۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره لاندې دندې سرته رسوي:

### ۱.۱۰.۲ د پیسو نشرول (Issuance of Money):

په هغه وختونو کې چې په نړۍ کې مرکزي بانکونو شتون نه درلود؛ د پیسو د نشرولو اجازه ټولو بانکونو لرله، چې دې کار یوشمېر ستونزې رامنځته کړې وې چې په لاندې ډول دي:

۱. د یو شان پیسو نشتوالی

۲. د پیسو پر کچه او مقدار د څارنې او نظارت نشتوالی

۳. عامو خلکو ته د پیسو نه منل

٤. پر پیسو باور نه کول

د پورتنیو ستونزو له کبله د پیسو د نشرولو دنده یوازې مرکزي بانک ته وسپارل شوه چې د اړتیا په صورت کې به پیسې نشروي، او د پیسو په مقدار کې به کموالی او زیاتوالی راولي، چې له دې سره د پورتنیو ستونزو مخه هم ونیول شوه.

### ۲.۱۰.۲ د حکومت بانک (Bank of the State):

د مرکزي بانک د حکومتي بانک په توګه ډېرې دندې سرته رسوي، مرکزي بانک د حکومت لپاره لاندې دندې سرته رسوي:

١. د حکومت ټول حسابونه همدلته جمعه کیږي.
٢. د حکومت لپاره د پورونو اخیستل او تادیه کول.
٣. د حکومت لپاره د بهرنیو اسعارو تهیه کول.
٤. د سرو او سپینو زرو په ګډون د حکومتي شتمنۍ ساتل.
٥. حکومت ته په مالي برخو کې مشورې ورکول.
٦. د حکومت استازیتوب.

## ۳.۱۰.۲ د بانکونو بانک (Bankers` Bank):

مرکزي بانک د هیواد د ټولو بانکونو د سردار په توګه لاندې دندې سرته رسوي:

## ۴.۱۰.۲ د بانکونو د پیسو ساتل:

ټول سوداګریز بانکونه په قانوني ډول په دې مجبور دي چې یو مقدار پیسې د مرکزي بانک سره د امانت په ډول کیږدي، چې مرکزي بانک د اړتیا په اساس په نوموړی امانت کې زیاتوالی او کموالی را وستلای شي.

## ۱۰.۲.۵ سپېځلتوب:

مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو د سپېځلتوب دنده هم سرته رسوي او د ټولو سوداګریزو بانکونو پانګه په مرکزي بانک کې وجود لري، ټول بانکونه د سواګریز بانک په پېژندنه یو له بله سره معاملات ترسره کوي.

## ٦.۱۰.۲ آخري پنا ځای:

مرکزي بانک د سوداګریزو بانکونو آخري پنا ځای دی. سوداګریز بانکونه چې کله پور ته اړتیا پیداکړي مرکزي بانک د اړتیا په صورت کې پور ورکوي.

## ۷.۱۰.۲ د پیسو پر بازار نظارت:

مرکزي بانک د پیسو بازار تر خپل څار او نظارت لاندې راولي.

## ۸.۱۰.۲ پر تبادلې څار:

د تبادلې له کنټرول څخه هدف د یو هیواد د کرنسی بدلېدل دبل هیواد په کرنسی باندې د مرکزي بانک کنټرول دی، چې مرکزي بانک په هیواد کې ټولې تبادلې په واک کې لري.

## ۹.۱۰.۲ پرمختیایي رول:

مرکزي بانک په یو هیواد کې ډېره اړینه اداره ده چې د هیواد په پرمختګ کې مهم رول لوبوي، او په هیواد کې بیلابیلو سکتورونو ته مالي امکانات برابروي، او هیواد له اقتصاي بحرانونوڅخه ژغوري.

## ۱۱.۲ د افغانستان بانک (Da Afghanistan Bank):

په افغانستان کې د لومړی بانک( د افغان ملي بانک ) په تأسیس سره دغه بانک د هیواد په اقتصاد خپله اغېزه واچوله، په لومړیو وختونو کې افغان ملي بانک په هیواد کې د مرکزي بانک دنده هم سرته رسوله مګر د وخت په تیریدو سره دې ته اړتیا پیداشوه ترڅو په هیواد کې مرکزي بانک رامنځته شي، همداوه چې (د افغانستان بانک) په ۱۳۱۸هـ.ش کال کې تأسیس شو چې د افغان ملي بانک له طرفه ورته د مرکزي بانک دنده وسپارل شوه.(محمد دین، ۱۳۹۶،ص-۲۳۲)



## ۱۲.۲ د اسلامي بانک تعریف:

اسلامي بانک هغه بانک ته ویل کیږي چې ټول اقتصادي او غیرې اقتصادي فعالیتونه او وظایف د اسلامي شریعت د قوانینو او اُصولو په رڼا کې ترسره کوي.

نو ځکه د اسلامي ټولنې تجارتي معاملې، تجارتي طریقې، د تولید خواص، سرمایه گذاري، تجارتي وظایف او مسؤلیتونه د شریعت د اُصولو او قوانینو څخه راوتلي دي.

### ۱.۱۲.۲ د اسلامي بانک اُصول (Principles):

۱. د اسلامي بانک په ټولو معاملاتو کې د سود نه موجودیت او د مشتریانو سره د معاملاتو په گټه او تاوان کې شریکوالی.

۲. د اسلامي بانک په ټولو معاملاتو کې عدل او د ظلم نه موجودیت.

۳. د ټولو هغه اجناسو او خدماتو نه تولید چې د اسلامي شریعت له نظره حرام وي لکه: شراب، قمار او داسې نور.

٤. د ټولو هغه اقتصادي معاملاتو له منځه وړل کوم چې د احتکار سبب گرځي.(Www.islamicbanling.com)

### ۲.۱۲.۲ د اسلامي بانک تاریخچه:

اسلامي بانک د لومړي ځل لپاره د شخصي(انفرادي) کوښښونو په وسیله په ۱۹۶۳م کال کې په مصر هیواد کې د النجارالصندوق په نامه د یو شخص له طرفه رامنځته شو ځکه چې معاصر بانکونه په سود ولاړ وو، او سود د اسلام له نظره حرام دی، نو ځکه ځینې ویښ مسلمانان د حکمتونو له بې تفاوتي څخه مایوسه شول او په انفرادي ډول یې بغیر له د حکومت څخه دا هلې ځلې شیرو کړې او ورسته ځینې اسلامي هیوادونه لکه: پاکستان، ایران، سوډان او داسې نور هیوادونه په دې هڅه کې شول ترڅو اسلامي بانکوالی ته وده او پرمختگ ورکړي.(مودودي، ۱۳۷۱،ص-۴۱)

### ۳.۱۲.۲ لومړنی اسلامي بانک:

لومړنی اسلامي بانک په ۱۹۶۳م کال کې د مصر په یوه وړوکي ښار(بیت عمر) کې جوړ شو، دغه بانک د یو څو کسانو د شخصي هلوځلو په نتیجه کې جوړ شو او د حکومت مرسته ورسره نه وه، د هغه وخت دسیاسي ملاحظاتو په وجه دغه بانک ته دوي د اسلامي بانک نوم نه وو ورکړي، له دې څخه ورسته د اسلامي بانکونو جوړېدل پیل شول چې مهم یې په ۱۹۷۵م کال کې د اسلامي ترقیاتي بانک جوړېدل وو. دغه بانک د یوه نړیوال بانک په ډول چې بغیر له سوده یې قرضونه ورکول جوړ شو. په همدغه کال

کې د دوبی اسلامي بانک جوړ شو او ورپسې په ۱۹۷۸م کال کې د مصر د الفیصل اسلامي بانک جوړ شو او د سوډان او کویټ بانکونه جوړشول، ددې څخه ورسته د نورو ډیرو اسلامي بانکونو د جوړېدو لړۍ پیل شوه چې لا تراوسه دوام لري.

د کویټ اسلامي بانک څورلس شاخې لري، د مصر-د الفیصل بانک څلرویشت شاخې لري چې د مصر په ټولو ښارونو کې خورې دي، اسلامي ترقیاتي بانک د پانګونې او پرمختګ اووه شاخي لري د اسلامي هیوادونو له جملې څخه د سوډان هیواد تر ټولو زیات اسلامي بانکونه لري لکه: البرکه بانک، فیصل اسلامي بانک، اسلامي بانک د مغربي سوډان لپاره، د سوډان اسلامي بانک، او ځینې نور چې ټول بغیر له سوده قرضونه ورکوي.

په لنډ ډول ویلي شو چې د ټولو اسلامي بانکونو شمیر تقریباً د ۳۶۵ څخه زیات دی او په ټولو اسلامي بانکونو کې د $۲۴۰ بېلون پیسو څخه زیاته سرمایه په کار اچول شوې ده.

اسلامي بانکونه د سود پرځای د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنیاد ولاړ دی.

د اسلامي بانکونو وده او پرمختګ یې په کال کې له ۱۰٪ څخه تر ۲۰٪ پورې دی. د اسلامي بانکونو په هکله خلکو فکر کولو چې اسلامي بانکونه به کامیاب نه شي او د سودي بانکونو مقابله به وه نشي کړای مګر د دغه توقعاتو پر خلاف اسلامي بانکونه ډېر بریالي شول او د غربي بانکونو ښه مقابله یې وکړله او په همدې وجه غربي بانکونه متأثره شول، او ځینې غربي بانکونود اسلامي بانکونو کړکی خلاصې کړلې او زار یې وایستلو تر څو د اسلامي بانکونو تقلید وکړي.

اسلامي بانکوالی د اسلام د اقتصادي او ټولنیز نظام مهمه برخه تشکیلوي، چې ټول معاملات یې د اسلامي شریعت پر اساس صورت نیسي او د معاملاتو د فقهې په نوم یادېږي.

اسلامي بانکوالی هېڅ ډول سود نه مني، د سودي معاملاتو په عوض اسلامي معاملات ترسره کوي، اسلامي بانکوالی د پانګې نرخ له مخکې څخه نه ټاکي بلکې د مشارکت او مضاربت پر اساس ګټه او تاوان سره شریکوي، سود نه یوازې په اسلام کې بلکې د نړۍ په نورو لویو ادیانو (عیسویت، یهودیت) کې هم ناروا دی.

د شلمې پیړۍ د نیمایي په آخرو کې یوه سلسه نظریات د اسلامي بانکوالی په هکله رامنځته شول اوهغه ستونزې چې د سودي بانکوالی څخه مسلمانانو ته رامنځته شوې وې تر یو حده حل شوې.

اسلامي بانکونه په دې ورستیو لسیزو کې رامنځته شول او د نړۍ هیوادونه یې د جوړولو په حال کې دي.

د لومړي ځل لپاره د اسلامي بانکوالی تجربه په شپېتمه لسیزه کې د ډاکتر(النجارصندوق) له خوا د التایي نیل په څو کلیو کې ترسره شوه نوموړی عالم د لومړی ځل لپاره د سپما حساب بغیر له سوده

رامنځته کړ بلاخره په ۱۹۷۲م کال کې د اسلامي هیوادونو لخوا یو کنفرانس جوړ شو چې په دې کنفرانس کې د اسلامي بانکوالی وړاندیز وشو او دا وړاندیز په تصویب ورسید او په ۱۹۷۵م کال کې د شهزاده محمد او د هغه د پلار ملک فیصل په ملاتړ یو اسلامي پرمختیایي بانک د سعودي عربستان د جدې په ښار کې جوړ شو چې بیا په مصر، سوډان، اوردون، کویټ، او بحرین هیوادونو کې نور بانکونه جوړشول.

په ۲۰۰۴م کال کې د اسلامي بانکونو شمیر ۲۶۷ ته ورسېدو چې ویې کولای شول له غربي بانکونو سره مقابله وګړي.

اسلامي بانکونه د تمویل کومې لارې او موډلونه استفاده کوي؟

اسلامي بانکونه د سود پرځای د اسلامي پانګونې(سرمایه ګذاري) طریقې کاروي او د دې تر څنګ نور عادي بانکي خدمتونه مهیا کوي د پانګه اچونې اسلامي طریقې په دې ډول دي: مشارکت، مضاربت، مرابحه، بیع سلم، بیع موجل، اجاره، استصناع، قرض حسنه، دغه ټول په تفصیل سره ذکر شوي دلته یې یوازې نمونه کېفایت کوي.(نجیمي،۱۳۹۵، ص-۵۳)

## ۱۳.۲ اسلامي بانکي حسابونه:

د اسلامي بانک له طرفه وړاندې کېدونکي حسابونه په لاندې ډول سره دي:

### ۱.۱۳.۲ جاري حساب (Current Account):

د نورو عادي بانکونو په ډول سره یې سرته رسوي یواځینی توپیر یې دادی چې بانک د نوموړي شخص څخه اجازه اخلي چې نوموړې پیسې په کاراوبار واچوي او کنه. بانک په نوموړی حساب کې چاته ګټه نه ورکوي او یوازې د ساتنې دنده سرتره رسوي، او مالک یې هر وخت کولای شي چې له دغه بانکي حساب څخه پیسې وباسي، بانک د دغه ډول بانکي حساب ضامن دی او د دوي لخوا ضمانت کیږي.

### ۲.۱۳.۲ د پس انداز حساب (Saving Account):

دغه خدمات د څه مصرف(خرچې) څخه بغیر اسلامي بانک اجرا کوي، هیڅ ګټه او سود نه ورکوي مګر په بیرته ورکړه کې ځینې بانکونه یو خاص امتیاز ورکړي پیسې اچوونکو ته ترڅو دوي تشویق شي.

د بېلګې په توګه: د یوې وړې پروژې تمویلول، او ځینې تحفې ورکول، دا هغو اشخاصو ته ورکول کیږي چې زیاته سپما(Saving) کوي او همداشان عمل کړل سود نه ګڼل کیږي ځکه له مخکې څخه نه ټاکل کېږي او د بانک په خوښه پورې اړه لري چې ورکوي یې او که یې نه ورکوي او د دې جواز

دليل د محمد(ص) دا حديث دی: ترجمه؛ له ابي هريره(رض) څخه روايت دي چې د يو سړی يو اوښ په محمد(ص) باندې پور وونو هغه سړی راغي او د اوښ غوښتنه يې وکړه محمد(ص) صحابه کرامو ته وويل تاسو يې اوښ وګوری او ور يې کړی کله چې صحابه کرامو اوښ وکتلو نو د هغه سړی اوښ يې ونه موند بلکې له هغه څخه يې ښه اوښ وه موند نو محمد(ص) ورته وويل ور يې کړی او بيا يې اوښ ورکړ نو هغه سړی وويل: بيشکه زما د حق پوره اداکړ الله(ج) د ستا حق پوره ادا کړي، محمد(ص) ورته وويل بيشکه غوره کسان ستاسې په ډول غوره راکړه ورکړه کوونکي دي.
نو له دې حديث څخه معلوميږي چې دا زيات سود نه بلکې د احسان په معنا دی او احسان ګڼل کيږي.

## ۳.۱۳.۲ د پانګونې حساب (Investment Deposit):

دغه ډول حساب يوازې تر اسلامي بانکونو مختص دي دادې (Fixed Deposit) سره زات توپير لري، د تيوری له مخې دا پيسې اچونه(Deposit) نده بلکې بانک ته پيسې ورکول دي چې وه يې کاروي وکالتاً د ده له اړخه د مضاربت پر بنياد چې پيسې ورکوونکي صاحب د مال(رب المال) او بانک په دې صورت کې منېجر(مضارب) يا وکيل دی دا پيسې بانک ته په دې شرط ورکول کيږي چې دوي به په ګټه او تاوان کې شريک وي، او د ګټې حصه له وړاندې تعين کيږي د بانک او پيسې ورکوونکي ترمنځ، او د پيسو ګټه او تاوان د دوه اړخيزې موافقې په اساس وېشل کيږي، نو ځکه بانک نشي کولای چې له مخکې څخه د ګټې اندازه معلومه کړي مثلاً ۶۰٪ به صاحب د مال وي او ۴۰٪ به دې بانک وي ګټه معلومه نه ده کېدای شي ګټه وکړي او کېدای شي تاوان وکړي مګر په سود کې بيا ګټه هتمي ده بانک به د پيسو مالک ته حتماً ګټه ورکوي، معلومه نده که بانک ګټه کړې وي او که يې تاوان کړی وي نو په دې صورت کې بانکونه او سرمايه ګذاران دې ډل کړنې ته زړه نه ښه کوي.

## ۴.۱۳.۲ د پيسو د لېږدونې خدمت (Money Transfer Service):

اسلامي بانکونه د نورو بانکون په شان د پيسو په لېږدونه کې د يوه ځای څخه بل ځای ته مرسته کوي او د دې خدمت په بدل کې بانک له خلکو څخه کمېشن(مزدوري) اخلي او همدارنګه د تجارت په برخه کې له تجارانو سره مرسته کوي او ددې په بدل کې هم يوه اندازه مزد اخلي چې دا شرعاً جواز لري.

## ۵.۱۳.۲ د قرض حسنې حساب:

بانک پرته له مضاربت څخه په قرض سرمايه لاسته راوړلای شي معمولاً بانک بايد د خلکو امانت وانه خلي، او کله که هم څوک ورسره امانت کيږدي نو هغه دې په قرض تبديل کړي ځکه د امانت څخه څوک استفاده نشي کولای او د تلف کيدو په صورت کې امانت دار هم مسؤل نه دی نو دواړو ته ګټه

او تاوان رسيږي، هغه داده چې بانک هغه امانت په قرض تبديل کړي يو طرف ته به بانک د هغې څخه استفاده وکړي او بل طرف ته به امانت هم د ضايع کېدو څخه ژغورل شوي وي. په قرضي سرمايه کې که گټه راځي که تاوان هغه د بانک د حصه دارانو ترمنځ شريک دی کومو کسانو چې د بانک سره په مضاربت باندې سرمايه نده ايښې هغوي د قرض په معامله کې هيڅ شرکت نلري که گټه راغله او که تاوان هغه به د بانک وي کله چې بانک له چا څخه قرض واخلي نو هغه شخص آزاد دی چې بيرته خپل قرض واخلي.(صابر، ص-۳۰۰)

## ۱۴.۲ سود (Interest):

د اسلام په اقتصادي نظام کې د روا سوداگري شيږم اصل د سود حرمت دی. په عربي ژبه کې (ربا) ورته ويل کېږي چې له همدې قرآن الکريم، نبوي احاديثو، او د اسلامي اُمت فقهاوو هم په ربا نوم نومولی او له هغو بيعو څخه يې شميرلی کوم چې اسلام منعه گرځولي دی.

### ۱.۱۴.۲ د سود (ربا) پيژندنه:

فقهاوو او تفسير پوهانو د ربا لفظ په پنځوو معناوو باندې ذکر کړی دی چې دغه پنځه معناوې په لاندې ډول دي؛

1 ) وده او نمو کول او پورته کيدل عرب وايي(رباالشی) مطلب دادی چې يو شی زات شو په همدې توگه عرب وايي(رباالسويق) يعنې ستوان وپړسېدل او راپورته شول هغه مهال چې اوبه پرې واچول شوې.

په همدې اصطلاح سره دغه کلمه په قرآن الکريم کې هم راغلې ده الله پاک فرمايي؛ترجمه: د الله(ج) د قدرت له نښانو څخه داهم دی چې ته به شاړه ځمکه وينې نو هرکله چې موږ پرې اوبه نازلې کړو وخوځيږي او راپورته شي.

2 ) د لړو ورکولو او ډيرو اخيستلو په معنی.

3 ) د يو شي د روزلو او تربيت ورکولو په معنی.

4 ) د هسک ځای په معنا لکه الله(ج) فرمايي؛ترجمه: او موږ د حضرت مريم زوی عيسی(ع) او دده مور د خپل قدرت نښانه گرځولي او موږ ځای ورکړی وو دواړو ته په هسکه ځمکه چې د قرار، سکون او پاکو اوبو خاونده وه.

5 ) د زاتوالي په معنا: لکه الله پاک فرمايي؛ترجمه: نيسی تاسو عهدونه خپل پلمه ټگـي مگـر خيانت يو له بل سره په خپلو منځو کې په سبب ددې چې شوه به يوه ډله زياتـه لـه هغې بلې ډلې څخه.

### ۲.۱۴.۲ د سود اصطلاحي تعريف:

د سود (ربا) اصطلاحي تعريف احنافو فقهاوو داسې کړی دی، چې په شريعت کې سود لـه زيـاتي مـال څخه عبارت دی چې په مقابل کې يې مالي عوض نه وي.

په همدې توگه په حنفي فقهاوو کې صاحب الهدايه سود داسـې تعريفـوي، چـې سـود د دوو متعاقـدينو ترمنځ په مالي معاوضاتو کـې لـه زيـاتوالي څخـه عبـارت دی چـې پـه مقابـل کـې يـې عـوض شرط نـه وي.(عثماني، ۱۳۹۶، ص-۱۸۲)

## ۱۵.۲ په غربي بانکونو کې د اسلامي بانکونو څانگې:

1 - مستندردچارټو بانک.

2 - سيټي بانک.

3 - د چين د شانهای بانک، او داسې نور.

### ۱۶.۲ په نړۍ کې د اسلامي بانکونو لېست:

په ټوله نړۍ کې اسلامي بانکونه خواره دي په اسلامي او غيرې اسلامي هيوادونـو کـې پـه لانـدې لېسـت کې موږ په هر هيواد کې يو څو اسلامي بانکونه د بيلگې په توگه ذکر کوو.

### ۱.۱۶.۲ اسلامي بانک او د اړوند هيواد نوم:

- اسلامي بانک عرب البنين اسلامک بانک، ټيرانه البانيا
- البرکه بان، الجيريا
- مسلم کميونيټي کرډيټ يونين استراليا
- الامين کمپني فورسيکوريټيز، انوسمنټ بحرين
- عرب اسلامک بانک بحرين
- بحرين اسلامک بانک
- انوسټر بانک
- اسلامک انويسټمنټ بانک بنگلاديش
- اسلامک بانک بنگلاديش

- فیصل اسلامک بانک
- اسلامک بانک اف برونای
- اسلامک ډیولوپمنټ بانک
- تیونګ امانه بانک
- تیونګ امانه اسلامي
- سوسایټي جنرال فرانس
- کپيټل ګایډینس فرانس
- بانک سیپه ایران جرمني
- کامرس بانک جرمنی
- ډچ بانک جرمني
- بانک موسکات انټرنیشنل هند
- الفلاح انویسټمنټ بانک
- بانک معملات اندونیشیا
- بانک کشاورزي، تهران ایران
- بانک مسکن
- بانک ملت
- بانک تجارت
- عراقي اسلامک بانک، عراق
- بانک سیپا، ایران، ایټالیا
- جوردن اسلامک باک، اوردن
- انټرنیشنل انویسمنټ ګروپ، کویټ
- البرکه بانک،لبنان
- تکافل، لګزامبورک
- عرب مالیزین مرچنټ بانک، مالیزیا
- حبیب نایجیرن بانک لمیټډ
- عمان عرب بانک
- فیصل بینک لیمیټډ، پاکستان

- عرب اسلامک بانک، فلسطسن
- قطر انټرنیشنل اسلامک بانک
- صبا اسلامک بانک،یمن
- تکافل لمیټیډ، لندن، انګلستان
- بانک اسلامي، افریقا
- البرکه، ترکیه

او دسې نور بانکونه...

## ۱۷.۲ د اسلامي او سودي بانکوالۍ ترمنځ توپیر:

د اسلامي او سودي بانکوالۍ توپیر په دې کې دی چې په سودي بانکوالۍ کې په امانتونو سود ورکول کیږي او د غربي عالمانو په نظر سود د سپما، پانګې اچونې، او پولي سیاست وسیله ده. مګر په اسلامي بانکوالۍ کې په امانتونو سود نه ورکول کیږي، بانک یوازې د ساتونکي دنده په غاړه لري. د اسلامي بانکوالۍ سرچینې اسلامي پورونه دي چې بانک ته ورکول کیږي او بانک نوموړي پورونه سرمایه ګزارانو ته د مشارکت او مضاربت په ډول ورکوي په نتیجه کې د اسلامي بانکوالۍ او مروجه(سودي) بانکوالۍ توپیرونه په لاندې ډول بیانیږي:

a- د سودي بانکوالۍ اُصول او قوانین د بشر په لاس جوړشوي دي او د بشر هر کار د نقص څخه خالي نه وي مګر د اسلامي بانکوالۍ اُصول د اسلامي شریعت د قوانینو په اساس جوړ شوي دي چې هغه له نقص څخه خالي دي او د اسلامي شریعت قوانین همیشه د بشر په خیر وي.

b- په سودي بانکونو کې تاوان د یو کس په اوږو بار وي مګر په اسلامي بانکوالۍ کې تاوان د دواړو خواوو ترمنځ شریک وي.

c- د سودي بانکونو هدف د زیاتې ګټې لاسته راوړل دي مګر د اسلامي بانکوالۍ هدف د مناسبې ګټې لاسته راوړل دي.

d- سودي بانکونه زکات نه ورکي مګر اسلامي بانکونه بیا زکات ورکوي.

د اسلامي بانکي سیستم غوره والی په غیرې اسلامي بانکي سیستم باندې

اسلامي بانکونه په غیرې اسلامي(سودي) بانکونو باندې په لاندې دلایلو سره غوره والی لري؛

- عدالت.

- موثریت.
- ثبات.
- پرمختگ او وده.

او داسې نور.

يعنې پورته ذکر شوي خصوصيات يوازې په اسلامي بانکونو کې ترسره کيږي، مګر په غيرې اسلامي بانکونو کې بيا دا خصوصيات نه تر سترکو کيږي.(اکبری، ۱۳۹۷، ص-۱۷۴)

### ۱۸.۲ د تمويلولو اسلامي طريقې:

څرنګه چې په اسلام کې سود حرام دی نو موږ بايد د تمويلولو(Finance) داسې لارې پيداکړو چې له سود څخه پاکې وي، له نيکمرغه ډيرې داسې اسلامي لارې شته چې له سوده پاکې، د ګټې او تاوان د شريکولو په بنياد ولاړې وي لکه مشارکت، مضاربت، بيع سلم، بيع موجل، استصناع، مرابحه، اجاره، بيع الوفا، مزارعه، حسنه پور...

### ۱.۱۸.۲ مشارکت:

نبي کريم(ص) فرمايلي دي چې الله(ج) ددې اعلان کړی دی چې دی به ترهغه وخته پورې د دوو شريکانو ترمنځ شريک وي ترڅو چې دوي يوبل ته فريب ورنه کړي يا يو دبل اعتماد خراب نه کړي.
مشارکت او مضاربت د سود غوره بديل دی دلته به ځينې بنيادي اُصول ذکر شي چې له امله به يې دا په ډاګه شي چې مضاربت د تصور په بنياد د بانکداری مقاصد څه ډول حاصلېدای شي.
د مشارکت څخه مراد دادی چې دوه يا زيات کسان په يو کار کې د سرمايې په شريکولو سره شريک شي او د کاراوبار ګټه او تاوان به د دوي ترمنځ شريک وي.

### د شرکت د عقد اُصول او شرايط:

- شريکانو موجوديت.
- شرکت چې کله رامنځته کيږي بايد شريکان د عقد او تړون په وخت کې حاضر وي، که حاضر نه وي نو د شرکت عقد فسد او باطل دی.
- هر شريک بايد عاقل، بالغ، حور، او ددې توان ولري چې د شرکت په عقد کې برخه واخلي.
- د جنس موجوديت(سرمايه)؛ د شرکت د عقد جوړولو په وخت کې بايد جنس موجود وي که جنس موجود نه وي نو د شرکت عقد باطل او فاسد دی.

- جنس باید ارزښت لرونکي وي؛ داسې جنس باید نه وي چې ارزښت ونه لري او هرڅوک ورته په آسانی لاس رسی لري لکه واښه او داسې نور توکي.
- د ګټې د ویش نسبت باید معلوم وي.

### ۲.۱۸.۲ مضاربت:

مال د یوکس او عمل د بل کس له خوا سرته سیږي، او ګټه د مخکینی موافقې په اساس ویشل کیږي، که تاوان وشي هغه صرف د سرمایې د مالک وي او د کاراوبار کوونکي عمل ضایع کیږي مالي تاوان نه وي وربانديې.

د مضاربت د مشروعیت دلیل:

د مضاربت د مشروعیت دلیل د پیغمبر(ص) دا حدیث شریف دی چې فرمایلي یې دي په دریو شیانو کې برکت دی؛ تر معینې نېټې پلورنه، مضاربت، او د غنمو او اوربشو ګډول د کور خوراک لپاره نه د پلورنې لپاره.

داراز د صحابه وو عمل په دې معنا چې هغوي به په خپلو منځونو کې مضاربت کاوا او یوه هم له دې کړنې څخه انکار نه دی کړی.

سربیره پر دې ټول امت په دې متفق دی چې مضاربت جواز لري او دغه اتفاق د صحابه وو د کړنې څخه منځته راغلی دی او هغوي همدغه کار کولو لکه عمر(رض)، عثمان(رض) او داسې نورو.

### د مضاربت مهم احکام:

- په مضاربت کې به مبلغ معین او ټاکل شوي وي( په غیرې معین مال او یا داسې قرض وي چې هغه تر اوسه نه وي ترلاسه شوي) مضاربت صورت نه نیسي.
- کوم مبلغ چې له چاسره د امانت په ډول ایښی وي د مالک په اجازې سره یې په مضاربت لګولی شي.
- سرمایه په عملي ډول مضارب(کارکونکي) ته حواله کول اړین دي که چیرې سرمایه له مالک سره پاتې شي مضاربت نه صحیح کیږي.
- د ګټې نسبت باید له مخکې څخه ټاکل شوي وي.
- هر هغه شرط منسوخ دی چې د هغه پربنا د تاوان ګالل په کمپنی(مضارب) پورې وتړل شي.

- که مضارب داسې فعالیت ترسره کړي چې د سرمایې د خاوند له لوري اجازه نه وي ورته شوې نو په دې صورت کې که تاوان رامنځته شي نو مسؤلیت یې د مضارب په غاړه دی.
- مضارب خپل ضروري مصارف د مضاربت له عوایدو څخه کولای شي البته د زمانې د عرف مطابق( میانه روی) به کوي.(نیازی، ۱۳۹۱)

### ۳.۱۸.۲ مرابحه:

که چیرې د یو جنس قیمت مشتري او بایع دواړو ته معلوم وي او بایع یې په مشتري په یو معن مقدار گټې سره خرڅ کړي دې ته مرابحه وایي.

### د مرابحې ضروري احکام:

- جنس به د خرڅلاو په وخت کې موجود وي که موجود نه وي نو دا معامله د شریعت له نظره باطله ده.
- جنس به د خرڅلاو په وخت کې د خرڅونکي په ملکیت کې وي.
- مطلوب جنس باید ارزښت لرونکي وي.
- مطلوب جنس باید داسې شي نه وي چې خرید او فروش یې د اسلام له نظره حرام وي.
- مطلوب جنس به مشتري ته معلوم وي که معلوم نه وي نو دا بیعه باطله ده.

### ۴.۱۸.۲ بیع موجل:

څخه مطلب په قرض باندې د جنس خرڅول دي، یعنې په دې کې قیمت یوځل ټاکل کیږي او بیا په قسطونو ورکول کیږي، په دې کې د قرض د ورکړې نیټه معلومه وي او داهم معلومه وي چې د قرض ورکړه به یوځل وي او که به په قسطونو وي.

### د بیع موجل احکام:

- جنس به د خرڅونکي په تصرف کې وي.
- د مطلوب جنس قیمت او د قرض د ورکړې وخت باید مشترى او بایع دواړو ته معلوم وي.
- بایع کولای شي چې د مشتري کوم شی په گروي کې ونیسي.
- د خرڅ شوي توکي قبضه باید فوراً مشتري ته ورکړل شي.

### ۵.۱۸.۲ بیع سلم:

دا هغه قسم بیعه ده چې قیمت په نغدي ډول ادا شي او جنس ورسته ترلاسه شي، د نبي کریم(ص) د یو تقریري حدیث څخه ددې جواز څرگندیږي، رسول(ص) صحابه کرام له دې کار څخه نه منع کول.

### ۶.۱۸.۲ استصناع:

ددې څخه مراد دادی چې يو صنعت کار او کاريگر تـه د يـو جـنس د جوړولـو څخـه مخکـې پيشـکي قېمت او بيعه ورکول دي.

په استصناع کې بايد د نوموړي جنس ټول خصوصيات بايد موجود وي او د جنس قيمـت بايـد د دواړو طرفونو په خوښه وټاکل شي.

### د استصناع د عقداحکام:

- د احنافو له نظره د جنس قيمت مخکې، ورسته، او په خپل وخت ورکول کيدای شي.
- د جنس نوعيت، ډول، مقدار، قيمت، او نور ضروري اوصاف بايد وټاکل شي.
- د جنس د تيارولو وخت تعينول ضروري نه دي.

### ۷.۱۸.۲ اجاره:

ددې مطلب داسې دی چې د يو چا د يـو شي ملکيـت تـر معلـومې مـودې پـورې لـه ځـان سره وسـاتل شي.(Hayseed, ۲۰۱۸)

## ۱.۳ د څیړنې میتود لوژي (Research Methodology):

لکه څرنګه چې دا يوه کيفي څېړنه ده نو له دوه ډوله معلوماتو څخه پکې استفاده کيږي.

### لومړی لاس معلومات (Primary Data):

د لومړني لاس معلومات د(In depth Interview) ميتود په واسطه د اسلامي بانکونو د مسؤلينو څخه د نمونه گيری پـه اسـاس راټـوليږي او د ډاټـا د تحليـل لپـاره د(Coding) تخنيـک کـارول کيـږي، او د لا وضاحت لپاره(Excel) پروگرام څخه استفاده کيږي.

### د دوهم لاس معلومات (Secondary Data):

د دوهم لاس معلومات د ورځپاڼو، مجلو، اخبارونو، کتابونو، او ترانزيتي سايټونو څخه را اخيستل کيـږي او په نوموړي منوگراف کې ځای پر ځای کيږي.

## ۲.۳ In depth Interview ميتود:

نوموړی میتود د کيفي ډاټا د راټولولو لپاره تر ټولو غوره ميتود گڼل کيږي نسبت نـورو ميتودونـو تـه لکـه پوښتنليک Focus، group، Case study او داسې نور ميتودونه.

د نوموړی میتود په واسطه د ډاټا د راټولولو طریقه او تګلاره: په دې میتود کې موږ(Open ended) سوالونه جوړو، او نوموړي سوالونه مثلاً د یو بانک له مسؤل سره مطرح کیږي او له هغوي څخه د نوموړو سوالونو ځوابونه د مخامخ خبرو اترو په ډول ترې ترلاسه کیږي او ترلاسه شوي ځوابونه لیکل کیږي نوموړي سوالونه به له ۱۵ څخه زیات نه وي او د کم شمیر لپاره یې حد نه دی ټاکل شوي.
کله چې ځوابونه ترلاسه شي نوبیا نوموړی ځوابونه په کټګوریو ویشل کیږي او مشابه کلمې په یوه کټګوري کې شامیلږي او دا پروسه ترپایه همداسې دوام کوي.

## ۳.۳ د نوموړي میتود غوره والی نسبت نورو میتودونو ته:

د دې یوه ګټه داده چې موږ کولای شو په انفرادي ډول له یو شخص سره هم خبرې اترې وکړو او د نوموړی شخص توجو دغه ټاکل شوې موضوع ته را جلب کړو، بله ګټه یې داده چې د وخت سپما پکې رامنځته کیږي، د نوموړی میتود په واسطه کولای شو چې د ټولنې له یوه اشخاصو سره خبرې اترې وکړو او معلومات ترې ترلاسه کړو، او بله ګټه یې داده چې د مخامخ خبرو اترو نتیجه دقیقه وي نسبت نورو میتودونو ته.

## ۴.۳ Coding تخنیک:

نوموړی تخنیک د کیفي ډاټا د تحلیل لپاره یو منل شوي تخنیک دی په نوموړي تخنیک کې د راټولې شوې ډاټا مهم نقاط په کټګوریو ویشل کیږي او مشابه کلمې په یوه کټګوري کې شامیلیږي او د متن تر پایه نوموړې پروسه مخته وړل کیږي.

## ۱.۴ تحلیل او تجزیه (The Analysis):

ددې څیړنې هدف دادی ترڅو په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې ستونزې او حل لارې ولټول شي، څرنګه چې دا یوه کیفي څیړنه ده او معلومات د (In depth Interview) په واسطه د بانکونو له مشتریانو، او د ټولنې له باسواده قشر څخه راټول شوي دي او د معلوماتو(Data) د تحلیل لپاره مو د(Coding) له تخنیک څخه او د لا وضاحت لپاره مو د(Excel) له پوروګرام څخه استفاده کړې ده.
نوټ: نوموړې مرکه مو له (۱۵) اشخاصو سره په انفرادي ډول ترسره کړې ده چې نوموړې ستونزې، د اشخاصو شمېر، او د هغه فیصدي په لاندې جدول کې درج شوې ده؛

**په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې ستونزې:**

| شمېره | ستونزې | د اشخاصو شمېر | فیصدي |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سودي بانکونو فعالیتونه | ۵ | ۳۳,۳۳٪ |
| ۲ | د عامه پوهاوي نشتون | ۱۱ | ۷۳,۳۳٪ |
| ۳ | بې باوري | ۴ | ۲٦,٦۷٪ |
| ۴ | د منظمو قوانینو نشتوالی | ٦ | ۴۰٪ |
| ۵ | بې کاري | ۱ | ٦,٦۷٪ |
| ٦ | خارجی منفي ذهنت | ۴ | ۲٦,٦۷٪ |
| ۷ | امنیت | ۱ | ٦,٦۷٪ |
| ۸ | د قوي مدیریت او رهبری نشتوالی | ۷ | ۴٦,٦۷٪ |
| ۹ | صنعت ته توجو نه کول | ۳ | ۲۰٪ |

a- **جدول په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې ستونزې**

1 - **موازنه ستونزې**




**او همدارنګه د نومړو ستونزو دې له منځه وړلو لپاره لاندې حل لارې ذکر شوې دي:**

| شمیره | حل لارې | د اشخاصو شمیر | فیصدي |
|---|---|---|---|
| ١ | یو منظم چوکاټ رامنځته کول | ٨ | ٥٣,٣٣٪ |
| ٢ | د عامه پوهاوي زیاتول | ١٠ | ٦٦,٦٧٪ |
| ٣ | د اسلامي بانکی خدماتو څخه استفاده کول | ١٢ | ٨٠٪ |
| ۴ | پیاوړی کمپیوټری سیستم رامنځته کول | ۴ | ٢٦,٦٧٪ |
| ۵ | د اعتبار زیاتول | ۵ | ٣٣,٣٣٪ |
| ٦ | د دولت مداخله کول | ۴ | ٢٦,٦٧٪ |
| ٧ | د اعلاناتو زیاتول | ۵ | ٣٣,٣٣٪ |
| ٨ | صنعت ته توجو کول | ٧ | ۴٦,٦٧٪ |

b- **جدول او همدارنګه دنومړو ستونزو د له منځه وړلو لپاره لاندې حلا لارې ذکر شوې دي**

### 2 - موازنه حل لارې



## ۱.۵ نتیجه ګیري (The Conclusion):

څرنګه چې اسلام یو کامل دین دی او اسلام د بشریت کامیابي، سوکالي او رفاه په دواړو جهانو کې غواړي نو ځکه اسلامي شریعت د انسان د ژوند د تنظیم لپاره د ژوند په ټولو اړخونو کې داسې قوانین وضع کړي دي چې د انسانانو عبادتي، سیاسي، اخلاقي، معاشرتي، او اقتصادي ژوند تنظیموي.

نو اسلامي بانکداری چې د اسلامي اقتصاد یوه برخه ده چې خپل ټول اقتصادي او غیرې اقتصادي فعالیتونه د اسلامي شریعت د اُصولو او قوانینو په رڼا کې ترسره کوي، نو اسلامي بانکداري یو داسې عصري بانکي سیستم دی چې نه یوازې ټولنه د سود له لعنت څخه خلاصوي بلکې د اوسنۍ عصري ټولنې ټول بانکي ضرورتونه او غوښتنې پوره کولای شي.

نو ځکه د ټولنې د ژوند د سطحې په لوړوالی کې مهم رول لوبوي. نو ماهم په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې ستونزې او حل لارې باندې نوموړې څېړنه ترسره کړه.

نو ددې څیړنې په پایله کې موږ دې نتیجې ته ورسیدو چې په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې زیاتې ستونزې موجودې دي چې د هغې له جملې څخه یې عمده او د توجو وړ ستونزې په لاندې ډول دي:

د سودي بانکونو فعالیتونه، د عامه پوهاوي نشتونه، بې باوري، د منظمو قوانینو نشتوالی، بې کاري، خارجي منفي ذهنت، د امنیت نشتوالی، د قوي مدریت او رهبری نشتوالی، صنعت ته توجو نه کول په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ د تطبیق په وړاندې له لویو ستونزو څخه شمېرل کیږي.

چې په نوموړو ستونزو کې تر ټولو لویه او جدي ستونزه د اسلامي بانکوالۍ په هکله د عامه پوهاوي نشتون دی.

**او د نوموړو ستونزو د هواري لپاره باید لاندې اقدامات ترسره شي:**

باید یو منظم چوکاټ رامنځته شي، عامه پوهاوي باید زیات شي، د اسلامي بانکی خدماتو څخه باید استفاده وشي، پیاوړی کمپیوټری سیستم باید رامنځته شي، د خلکو ترمنځ باید اعتبارت زیات شي، دولت باید مداخله وکړي، د اسلامي بانکوالی په هکله باید اعلانات زیات شي، صنعت ته باید توجو زیاته شي، چې په ذکر شو حل لارو کې تر ټولو غوره حل لاره داده ترڅو د اسلامي بانکوالۍ له خدماتو څخه استفاده وشي او د اسلامي تمویل لارې چارې په کار واچول شي.

نو له دې څېړنې څخه مو هدف داوو چې تر څو په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې ستونزې په نښه کړو او د هغه ستونزو لپاره حل لارې ولټوو بالاخره مو ددې څېړنې په پایله کې پورته ذکر شوې ستونزې او د نوموړو ستونزو حل لارې ترلاسه کړې.

## ۲.۵ وړاندیزونه (Suggestions):

1 - په افغانستان کې باید سوچه اسلام شرعي نظام پلی شي تر څو د اسلامي بانکوالۍ پرمختګ ته لاره هواره شي.

2 - د افغانستان د ټولو پوهنتونونو د اقتصاد په پوهنځیو کې باید د اسلامي اقتصاد یوه څانګه پرانیستل شي ترڅو اسلامي بانکونه پرمختګ وکړي.

3 - څرنګه چې په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې زیاتې ستونزې موجودې دي خو تر ټولو زیاتې ستونزې د اسلامي بانکوالۍ په وړاندې هغه هم د مسلکي اشخاصو کمښت او هغه علما چې په اقتصادي مسایلو پوه وي د هغوي کمښت هم لویه ستونزه ګڼل کیږي، نو دولت باید داسلامي بانکونو سره د مسلکي پرسونل په روزلو کې مرسته او همکاي وکړي، ترڅو اسلامي بانکونه د پرمختګ او ترقي په لور حرکت وکړي.

4 - دولت باید سودي بانکونه کاملاً لغوه اعلان کړي ترڅو اسلامي بانکونه پرمختګ او ترقي وکړي.

5 - دولت باید د مطبوعاتو له لارې په خلکو کې د اسلامي بانکوالۍ روحیه پیاوړې کړي.

6 - ټول ملت په خاصه توګه علما او د ټولنې باسواده اشخاص د اسلامي بانکوالۍ په پرمختګ کې یوله بل سره مرسته او همکاري وکړي.

7 - ټول ملت باید خپلې ټولې تجارتي او ورځنۍ بانکي چارې د اسلامي بانکونو له لارې سرته ورسوي ترڅو اسلامي بانکونه رشد، ترقي او پرمختګ وکړي.

8 - اسلامي بانکونه باید مشتریانو ته کیفیت لرونکي خدمات عرضه کړي ترڅو زیات مشتریان راجلب کړي.

9 - اسلامي بانکونه باید په کار پوه اشخاص استخدام کړي.

10 - اسلامي بانکونه باید په څېړنه او پرمختګ باندې زیات تمرکز وکړي.

## ۵.۳ ماخذونه (References):


۱. نیازی، ډاکټر مصطفی، (۱۳۹۱ه.ش)، اسلامي بانکداري او په هغه کې د شریعت بورډرول، اول چاپ، (مخونه۱٦٦)، محله جنګي پیښور ښار، مکتبة الفرقان.

۲. نیازی، محمد داؤد، (۱۳۹۱ل)، بانکوالی، دوهم چاپ، (مخونه ۱۲۰)، خوځون علمي او کلتوري بنسټ، ګودر خپرندویه ټولنه.

۳. عثماني، محمد تقي، (۱۳۸۳ه.ش)، اسلام او نوی اقتصاد، دوهم چاپ، (مخونه۱۲۸)، نفیس خپرندویه علمي ټولنه.

٤. صابر، عبدالواسع، نړیوال اقتصادي نظامونه،(مخونه۲۹۷-۳۰۰).

۵. مودودي، سیدابولعلی، (۱۳۷۱ه.ش)، اسلامي اقتصاد، اول چاپ، الهدی اداره.

٦. عثماني، محمد تقي، (۱۳۹٦ه.ش)، اسلام او معاصره سوداګري، اول چاپ، (مخونه ۱۸۲)،مومند خپرندویه ټولنه جلال آباد.

۷. اکبری، محمد حامد، (۱۳۹۷ه.ش)، بریښنایي بانکوالی، اول چاپ، (مخونه۱۷۴)، نوی مستل خپرندویه ټولنه کابل.

۸. نجیمي، بشیرالله، (۱۳۹۵ه.ش)، معاصر اسلامي اقتصاد پیژندنه، (مخونه۴۹-۵۵).

۹. ډاکټر محمد دین، (۱۳۹٦ه.ش)، شاولي الله دهلوي او د هغه اقتصادي نظریات، (مخونه ۲۳۲)،دوهم چاپ، ن- خپرنیز بهیر کونړ.

۱۰. شهزاد، پوهنمل اسماعیل، (۱۴۰۳ه.ش)، د اسلام اقتصادي نظام، (مخونه۹۵)، اول چاپ، نیو کابل خپرندویه ټولنه-ننګرهار.

۱۱. Mishra, Dr Lolita(۲۰۱۸), Islamic banking in up and challenges and opportunities,۳edition, p.(۸٦-۹٤), available at www.academicsjournal.com.

۱۲. Gidado, Muhammad Abubaker(۲۰۱۸,March), the opportunities and challenges of Islamic banking in the Nigerian economy, ۲edition, p.(۱۲۷٤-۱۲۷۷), lovely professional university, Panjab, India available at www.academicsjournal.com.

۱۳. Rahman, Fouad aulia (۲۰۱٦, January), Islamic finance: current, future, trends, and challenges, ٤edition, p. (۲۵-۳۳), American research institute for policy development.

١٤. Utami, wiwik (٢٠١٧, January), Islamic banking Indonesia cases, ٢edition, p, (٢٥-٣٠), verbenas institute, Indonesia.

١٥. Hayseed, Dr Muhammad (٢٠١٨), Islamic banking challenges and solution, special, faculty of business and professional studies, Malaysia.